مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور آخر
۲۰۲۲/۰۵/۱۹

# د ښځو لیک لوست په اسلام کې (د نجونو زده کړې)

(اوومه برخه)

**د قرآن کریم پوهه او د ښځو حجاب**

په قرآن عظیم کې لولو:﴿وَلَقَدْ صَرَّفْنَا فِي هَٰذَا الْقُرْآنِ لِلنَّاسِ مِن كُلِّ مَثَلٍ﴾ ژباړه:«موږ په دې قرآن کې هر ډول مثالونه د خلکو لپاره بیان کړي دي.» (کهف: ۵۴)

ومو لوستل چې په قرآن کریم کې الله تعالی د انسانانو لپاره هر ډول بېلګې او نښې بیان کړي دي، داسې بېلګې چې ځینې یې ښکاره او روښانه دي او ځینې یې ظاهراً پېچلې دي خو هغه چې په اسانۍ سره د پوهې وړ نه دي،«او د هغې په سم مطلب [او تفسیر] یوازې الله پوهیږي. او هغه چې په علم کې پاخه دي.» ﴿وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ إِلَّا اللَّهُ ۗ وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ﴾ (آل‌عمران: ۷) او هغه د قرآن مجید د نورو روښانه آیتونو د تفسیر له مخې او د پیغمبر(ص) د احادیثو په رڼا کې د پوهاوي وړ ګرځي، په دې شرط چې د لوړې کچې پوهانو لخوا، چې د ښه درک خاوندان وي وڅېړل شي، او په ځینو مسایلو کې الله تعالی مؤمنان آزاد پرېښودلي دي، چې یوه بېلګه یې د ښځو د سَتر په برخه کې له لېوره او تره (کاکا) په اړه ده چې په قرآن کریم کې له هغو څخه د سَتر کول یا نه کولو په اړه هېڅ خبر نه ترسترګو کیږي چې وروسته به پرې وغږیږو.

اړینه ده ووایو، د قرآن حکیم هغه احکام چې په اسانۍ سره د هر چا سر نه پرې خلاصیږي او هر څوک یې نه شي درک کولی او یا هغه موضوعات چې په هغو کې مسلمانان آزاد پرېښودل شوي دي، په حقیقت کې په هغو کې لوی، لوی حکمتونه نغښتي دي، داسې چې دا ډول ښوونې د زمان، مکان او شرایطو په نظر کې نیولو سره په پلې کېدی شي او د بېلابېلو موضوعاتو په هکله په هره زمانه کې د تطبیق وړ دي، له دې امله ده چې الله تعالی فرمایي:

﴿كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ إِلَيْكَ مُبَارَكٌ لِّيَدَّبَّرُوا آيَاتِهِ وَلِيَتَذَكَّرَ أُولُو الْأَلْبَابِ﴾

ژباړه:«دا کتاب دی برکتناک چې موږ تاته نازل کړی دی، تر څو دوی [وګړي] د ده پر آیتونو غور وکړي او د پوهې او فکر خاوندان درس تری واخلي.» (ص: ۲۹)

عبدالله بن عباس (رض) چې د پیغمبر(ع) د تره زوی او د قرآن ژباړن او وتلی مفسر ؤ، د قرآن کریم د عظمت او حکمت په هکله وایي: «که د خپل اوښ ترسېرۍ ورک کړم، د هغه حکم د خدای تعالی په کتاب کې مونډلی شم.» [ښايي د ابن عباس پوهه د رسول الله (ص) د ځانګړي دعا له کبله وي چې داسې دعا یې ورته کړي وه]:«پروردګاره هغه د دین پر مسایلو پوه کړه او د قرآن تاویل (او تفسیر) ورزده کړه.» (علامه محمد یوسف قرضاوي: قرآن منشور زندګی، ۲۸۱مخ)

د قرآن کریم د هر ټکي او هري کلمې پر ماناګانو او حکمت باندې یوازې پیغمبر(ع) پوهیده، ځکه چې هغه (ص) د عقل کُل څښتن ؤ او الله تعال لویه پوهه ورکړې وه. د رسول الله (ص) له رحلت وروسته، په اسلامي نړۍ کې داسې څوک نه تر سترګو کیږي چې د پېچلو او مشکلو موضوعاتو لپاره یې داسې د حل لاره مونډلي وي چې ټولو ته د منلو وړ وي، چې له هغو څخه یوه د اختلاف مسئله د ښځو د پوښښ (سَتر) ده. له بده مرغه چې د دا ډول اختلافي مسئلو د حل په موخه د نړۍ وتلي پوهان په دې نه دي بریالي شوي چې د اختلافي موضوعاتو په اړه سره راټول او په ټولیزه توګه ربنتیني او عادلانه پرېکړې ترسره کړي، ځکه خو مسلمانان د دا ډول ناحل شویو مسئلو له امله له سختو ناخوالو سره مخ دي چې یوه بېلګه یې زموږ په هېواد کې د سَتر له امله د ښوونځی د نجونو د زده کړو مخنیوی دی، غواړم په دې اړه د خپلې پوهې او درک له مخې د ښځو د پوښښ (ستر) او د حجاب مسئله وڅېړم.

**د ښځو حجاب په قرآن حکیم کې (د رسول الله (ص) د مېرمنو په اړه)**

په قرآن کریم کې د حجاب کلمه (۷) ځلې راغلې ده چې (۶) ځله د پردې په مانا او یو ځل د پنا په مانا راغلې ده، په قرآن کې د حجاب کلمه د ښځو د پوښښ یا سَتر په مانا نه ده راغلې، یوازې د احزاب سورت په ۵۹ آیت شریف کې د پیغمبر(ص) د مېرمنو او مؤمنانو تر منځ د پردې په توګه راغلې ده چې وایي:﴿وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِن وَرَاءِ حِجَابٍ﴾ ژباړه:«که تاسې د پیغمبر له مېرمنو څخه د ژوند څه متاع غواړئ نو د پردې تر شا یې وغواړئ.»

اړونده پوهان وایي چې د حجاب کلمه د ښځو د پوښښ پر ځای ډېره کارول شوي ده نو اوس مهال د ښځو د پوښښ د کلمې ځای یې هم نیولی دی او موږ اړ یو د حجاب کلمه د پوښښ پر ځای ولیکو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

سره له دې چې د ليکنو د لړۍ په درېيمه برخه کې مو (د نجونو پرده يا حجاب) تر سرليک لاندې يوه اندازه مالومات وړاندې کړي دي، خو اوس غواړو د ښځو د عمومي حجاب په اړه په پراخه کچه ګټور مالومات او ليدلورى وړاندې کړو:

الله تعالى د ښځو د پردې په اړه په قرآن عظيم کې ښځو ته د هغوى د پوړ (مقام) په نظر کې نيولو سره احکام نازل کړي دي. د پيغمبر(ع) مېرمنو ته نسبت د مؤمنو ښځو په پرتله سخت احکام راغلي دي، ځکه چې الله (ج) د رسول الله (ص) مېرمنو ته ويلي چې تاسو د عامو ښځو په څېر نه ياست، نو له نامحرمو سره هوس لرونکي خبرې مه کوئ:

﴿يَا نِسَاءَ النَّبِيِّ لَسْتُنَّ كَأَحَدٍ مِّنَ النِّسَاءِ ۚ إِنِ اتَّقَيْتُنَّ فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ فَيَطْمَعَ الَّذِي فِي قَلْبِهِ مَرَضٌ وَقُلْنَ قَوْلًا مَّعْرُوفًا﴾

ژباړه: «اى د پيغمبر مېرمنو! تاسې د عامو مېرمنو غوندې نه ياست. که تاسې له الله څخه وېرېږئ، نو په داسې لهجه خبرې مه کوئ چې د زړه په خرابى اخته سړي (نامشروع) تمه پيدا کړي، بلکې سمې، غوره او ځيرې خبرې کوئ.» (احزاب: ۳۲)

سربېره پر دې د پيغمبر(ع) د مېرمنو مکافات او مجازات د عامو ښځو په نسبت دوه برابره دي:

﴿يَا نِسَاءَ النَّبِيِّ مَن يَأْتِ مِنكُنَّ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ يُضَاعَفْ لَهَا الْعَذَابُ ضِعْفَيْنِ ۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرًا﴾

ژباړه: «اى د پيغمبر مېرمنو! ستاسې څخه چې څوک د څرګندې بدلمنۍ مرتکبه شي، هغې ته به دوه ځله سزاورکړې شي، د الله لپاره دا ډېر آسان کار دى.» (احزاب: ۳۰)

﴿وَمَن يَقْنُتْ مِنكُنَّ لِلَّهِ وَرَسُولِهِ وَتَعْمَلْ صَالِحًا نُّؤْتِهَا أَجْرَهَا مَرَّتَيْنِ وَأَعْتَدْنَا لَهَا رِزْقًا كَرِيمًا﴾

ژباړه: «او ستاسو څخه چې څوک د الله او د هغه د رسول امر ته غاړه کېږدي او نېک عمل وکړي، هغې ته به موږ دوه ځله اجر ورکړو او موږ د هغې لپاره غوره روزي برابره کړې ده.» (احزاب: ۳۱)

له دې امله ده چې دوى ته حکم شوى دى چې په خپلو کورونو کې کېني او د جاهليت د زمانې د ښځو په څېر ځانونه څرګند نه کړئ:

﴿وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَىٰ ۖ وَأَقِمْنَ الصَّلَاةَ وَآتِينَ الزَّكَاةَ وَأَطِعْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ ۚ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا﴾

ژباړه: «په خپلو کورونو کې مېشتې اوسئ او د تېر جاهلي دوران غوندې سينګار کړي او بې ستره مه ګرځئ. لمونځ قايم کړئ، زکات ورکړئ او د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړئ. الله دا غواړي چې ستاسې نبوي کورنۍ څخه چټلي ايسته کړي او تاسې په پوره ډول ستره کړي.» (احزاب: ۳۳)

په کورونو کې د پيغمبر(ع) د مېرمنو ناستې داسې نه دى لکه څوک چې په کور کې بندي شي، دوى د اړتيا پر مهال بهر ته تللى شي خو د جاهليت د دوران د ښځو په څېر نه بلکې په ستر کې.

سره له دې چې د پيغمبر(ص) مېرمنې مؤمنانو ته د مېندو مقام لري ﴿وَأَزْوَاجُهُ أُمَّهَاتُهُمْ﴾ خو بيا هم مؤمنانو سړيو ته قرآن مجيد امر کړى دى چې که چېرې له هغوى څخه د کوم څيز غوښتنه کوئ نو د پردې تر شا يې ترلاسه کړئ، په دې توګه د بخاري په استناد د پردې آيت چې د احزاب ۵۳ آيت شريف دى نازل شو:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ إِلَّا أَن يُؤْذَنَ لَكُمْ إِلَىٰ طَعَامٍ غَيْرَ نَاظِرِينَ إِنَاهُ وَلَٰكِنْ إِذَا دُعِيتُمْ فَادْخُلُوا فَإِذَا طَعِمْتُمْ فَانتَشِرُوا وَلَا مُسْتَأْنِسِينَ لِحَدِيثٍ ۚ إِنَّ ذَٰلِكُمْ كَانَ يُؤْذِي النَّبِيَّ فَيَسْتَحْيِي مِنكُمْ ۖ وَاللَّهُ لَا يَسْتَحْيِي مِنَ الْحَقِّ ۚ وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِن وَرَاءِ حِجَابٍ ۚ ذَٰلِكُمْ أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهِنَّ ۚ وَمَا كَانَ لَكُمْ أَن تُؤْذُوا رَسُولَ اللَّهِ وَلَا أَن تَنكِحُوا أَزْوَاجَهُ مِن بَعْدِهِ أَبَدًا ۚ إِنَّ ذَٰلِكُمْ كَانَ عِندَ اللَّهِ عَظِيمًا﴾

ژباړه: «اى مؤمنانو! د پيغمبر کورونو ته مه ننوځئ، مګر دا چې د ډوډۍ خوړلو لپاره اجازه درکړى شي، سره له دې هم (د بې وخته ورتګ سره) د ډوډۍ لپاره منتظر مه پاتې کېږئ. خو که تاسې وبلل شئ نو ورشئ. خو کله چې خواړه وخورئ نو خواره شئ په خبرو کولو کې مه بوختېږئ. ستاسې دغه حرکتونه پيغمبر خواشينى کوي، خو هغه د حيا له امله څه نه وايي او الله د حقې خبرې په ويلو نه شرمېږي. که تاسې د پيغمبر له مېرمنو څخه د ژوند څه متاع غواړئ نو د پردې تر شا يې وغواړئ، دا ستاسې او د هغو د زړونو د سپېڅلتيا لپاره ډېره مناسبه کړنلاره ده. تاسې حق نه لرئ د الله رسول ته تکليف ورسوئ، او نه هيڅ کله دا روا ده چې له هغه څخه وروسته د هغه له مېرمنو سره نکاح وکړئ دا کار مو د الله پر وړاندې ډېره ستره ګناه ده.» (احزاب: ۵۳)

لکه چې پوهېږو د پيغمبر(ص) مېرمنې د نورو عامو مېرمنو په نسبت لوړ مقام لري او مؤمنې ښځې په دويم مقام کې راځي د پيغمبر(ع) د مېرمنو او لوڼو لپاره او د مؤمنانو ښځو لپاره الله تعالى د احزاب سورت په ۵۹ آيت کې د حجاب امر، لومړى د پيغمبر(ع) کورنۍ ته شوى دى او وروسته د مؤمنانو مېرمنو ته چې د نومووړي آيت شريف په نازليدلو سره مؤمنو ښځو خپل ځانونه د امنيت د نشتوالي له امله په خپلو ځادرونو باندې پټ کړل:

﴿يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاءِ الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَابِيبِهِنَّ ۚ ذَٰلِكَ أَدْنَىٰ أَن يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ ۗ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا﴾

ژباړه: «اى پيغمبره! خپلو مېرمنو، لوڼو او د مؤمنانو ښځو ته ووايه چې پر خپل ځان باندې د خپلو ټکريو پلوونه خواره کړي، دا ډېره مناسبه کړنچاره ده تر څو هغوى وپېژندلاى شي او ونه ځورول شي. الله ښه بښونکى او مهربان دى.» (احزاب: ۵۹)

۱۴۰۱/۲/۲۹ل. ل

نور بيا



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ